gent:






# په بېلابېلو ژبو کې روزل؟ ښه فکر!

## مشورې او چلونه

هیڅ سم یا غلط
انتخاب نشته.

## ١ تاسو له خپل ماشوم سره په کومه ژبه یا ژبې تر ټولو ښه خبرې کوئ؟

**١ یا څو ژبې انتخاب کړئ چې تاسو ورسره ځان راحت احساس کوئ او ښه پوهیږئ. هیڅ سم یا غلط انتخاب نشته.**

په کومو ژبو کې غواړې خپل ماشوم وروزې؟ ته به دا کار څنګه ترسره کړې؟ د ماشوم د زیږون مخکې دې موضوع باندې فکر وکړه.

**١ مور/پلار، ١ ژبه**

هر مور او پلار تل له ماشوم سره په یوه ژبه خبرې کوی.

**١ حالت یا ځای، ١ ژبه**

مثلاً، ته په کور کې په یو ژبه خبرې کوې او د ښوونځي په لور په بله ژبه خبرې کوې.

**١ موضوع، ١ ژبه**

د بېلګې په توګه، ته کورنۍ کار په بله ژبه سر ته رسوې او خبرې د ماشام د خوړو په اړه په بله ژبه کوې.

**خپل سیستم بدلول یا تل نور ډول انتخاب کول.**

## ٢ ته څنګه کولی شې د خپل ماشوم ژبه پیاوړې کړې؟

**ډله خپل ماشوم سره ډېرې خبرې وکړه**

په دې ډول ستاسو ماشوم په آسانه توګه خبرې کول زده کوي او د نورو په خبرو پوهیږي. له خپل ماشوم سره د زیږون نه وروسته خبرې کول پیل کړئ. د څه شي په هکله خبرې کوې؟ ځینې بېلګې:

**هغه څه په الفاظو یاد کړه چې کوې او وګورې:**

- 'مور ځان مینځو، کالی اغوندو، ...'
- 'مور به پخلی کوو، میز به برابر کړو، خوراک کوو، سودا اخلو، ...'
- 'وګوره: هلته یو سپی دی، لمر ځلیږی، ...'

Vertaling Nederlands-Pasjtoe.
Dit is de vertaling Pasjtoe van “Opvoeden in verschillende talen? Goed idee!” en bevat identiek dezelfde informatie als de Nederlandse tekst. Deze vertaling mag enkel verspreid worden met de originele brontekst “Opvoeden in verschillende talen? Goed idee!”.

**خپل ماشوم ته بلنه ورکړه چې خپله خبرې وکړي. خلاصې پوښتنې وکړئ، لکه:**

- 'ولې دا دې خوښېږي؟'
- 'ته به دا کار څنګه وکړې؟'

**اړیکې جوړې کړه:**

'وګوره، پاڼې زېړې کېږی او له ونو څخه غورځېږي. منی کېږي.'

## èله خپل ماشوم سره یو ځای لوبه وکړئ

هغه فعالیتونه غوره کړئ چې ته او ستا ماشوم هغه خوښ کړئ. په لوړ غږ ووایه چې تاسو څه کوی او ووایه چې ته څه وینې. په دې توګه ستا ماشوم ژر نوی کلمې زده کوي.

**دبیلګې په توګه، کوم کارونه تاسو یو ځای کولی شئ؟**

- یو ځای سندرې ووایه، فوټبال وکړه، پزل جوړ کړه، رسم وباسه، …
- کتابخانې ته لاړ شئ او کتابونه یو ځای انتخاب کړئ.
- خپل ماشوم ته په هغو ژبو کتاب ولوله چې ته وربانديې ښه حاکم یې.
- پارک ته لاړ شه او خلاصې پوښتنې وکړه. د بېلګې په توګه، 'آیا موټر د بایسکل په څېر تېز چلېږی؟'

## èخپل ماشوم ته وخت ورکړه

که ستا ماشوم په څو ژبو لوی شی، نو ډېر وخت ته اړتیا لري. هغه ماشومان چې یوه نوې ژبه زده کوی، لومړی ډېر اوري او ګوري. او که دوی په یو وخت کې څو ژبې زده کړی، نو ډېر وخت ته اړتیا لري. ستاسو ماشوم ممکن د دې خبرې لپاره لږ آرام وي. کیدای شي دا آرامه موده څو اونی یا میاشتې دوام وکړي. همدارار په دې پو شئ چې ستا ماشوم به ورځنی کلمې ژر زرکړي نسبت سختو (ښوونځي) کلمو.

**په دې ډول د خپل ماشوم سره مرسته وکړئ:**

- ·له خپل ماشوم څخه وپوښتئ چې د مختلفو ژبو زده کړه او خبرې کول په هغو ژبو ورته څنګه دی. او دا چې ځان څنګه محسوس کوي.
- ·خپل ماشوم ته ووایه چې ولې ته خپله فکر کوې چې په څو ژبې پوهېدل او خبرې کول مهم دي. د بېلګې په توګه، ددې لپاره چې د کورنۍ غړو سره خبرې وکړې، په بیلابیلو ژبو کتابونه ولولئ، …

## èخپل ماشوم ته ووایه چې تېروتنې کول عادی خبره ده

تېروتنې کول یا په ګډو وډو ژبو خبرې کول: یوه عادي خبره ده. کوچنی ماشومان اکثراً د ژبو په توپیرونو نه پوهېږي. دا هم یوه عادي خبره ده چې ستا ماشوم ځینې کلمې په یوه ژبه پوهېږي خو په بله ژبه نه پوهېږي. د بېلګې په توګه، د ښوونځی کلمې، لکه اټلس.

### ستا ماشوم له ۶ کلونو کم عمر لري؟

·بیا ته خپله جمله په سمه توګه تکرار کړه. د بېلګې په توګه: ستا ماشوم وایی 'مور کور راځی؟' او ته ځواب ورکوې 'هو، مور وروسته کور ته راځی.'

### ستا ماشوم ۶ کلونو زیات عمر لری؟

·نو ته کولی شې چې ورته ووایې چېهغه تېروتنه کوي.ته کولی شې له خپل ماشوم څخه هم وغواړې چې دا خبره په بل ډول ووایي یا خپله جمله اصلاح کړي.

حتماً خپل ماشوم ته ووایاست چې کومه جمله یې ښه ووېله!

## ۳ ته څنګه کولی شې د خپل ماشوم نیدرلندي پیاوړی کړې؟

## èخپل ماشوم سره د کور په ژبې کې مرسته وکړه

ځکه که ستا ماشوم د کور ژبه ښه پوه شی او خبرې وکړی، نو نیدرلندي به اسانه زده کړي!

د بېلګې په توګه، ستاسو ماشوم د کور په ژبه رنګونه پېژني؟ بیا دا رنګونه په نیدرلندي ژبه هم ژر زده کوي. مثلاً، ستا ماشوم کولی شی لا دمخه په کور ژبه اوږدې جملې جوړې کړي؟ نو دا کار به په نیدرلندي کې هم ژر وکړي.

## èخپل ماشوم ته د نیدرلندي زدکړې هم وخت ورکړه.

ځکه هر ماشوم ته وخت ته اړتیا لری چې ژبه زده کړي. ورځنۍ کلمې به له سختو مفاهیمو په پرتله ژر زده شي. او لنډې خبرې اترې به د اوږدو مرکو په پرتله په اسانه توګه ترسره شي.

Vertaling Nederlands-Pasjtoe.
Dit is de vertaling Pasjtoe van “Opvoeden in verschillende talen? Goed idee!” en bevat identiek dezelfde informatie als de Nederlandse tekst. Deze vertaling mag enkel verspreid worden met de originele brontekst “Opvoeden in verschillende talen? Goed idee!”.

gent:

**خپل ماشوم ته فرصت ورکړئ چې نیدرلندي تمرین وکړي.**

- ·خپل ماشوم وهڅوئ چې له هغو ماشومانو سره لوبې وکړی چې هغو نیدرلندي خبرې کوي.
- ·نیدرلندي ژبې سره علاقه وښیه، حتا که چېرې ته خپله په ښه نه پوهیږې.
- ·د خپل ماشوم هرې نوې خبرې ته مثبت غبرګون ښکاره کړه.
- ·خپل ماشوم ته اجازه ورکړه چې تا ته نیدرلندي کلمې زده کړي.
- ·د خپل ماشوم سره په ګډه ټلویزیوني پروګرام یا د ماشومانو خبرونه په نیدرلندي ژبه وګورئ او خبرې پرې وکړئ.
- ·کتابخانې ته لاړ شئ او په ګډه کتابونه ولولئ. په هغو ژبو ولوله چې ته پې پوهېږې. یا انځوریز کتابونه انتخاب کړه چې متن ونه لري، چیرې چې ته خپله ورته یوه کیسه جوړه کړې.دا کار د نیدرلندي ژبه او د کورنۍ په نورو ژبو کې ترسره کېدای شي.
- ·خپل ماشوم لپاره په یو سپورت کلپ یا د ځوانانو په ټولنې کې نوملیکنه وکړئ. په دې توګه ستا ماشوم د لوبې پر مهال نیدرلندي زده کوي.
- ·د خپل په سېمې کې په فعالیتونو کې برخه واخلئ.
- ·هڅه وکړه چې خپله هم نیدرلندي خبرې وکړې، مثلاً له ګاونډیانو یا ښوونکی سره. تېروتنې کول اجازه ده! په دې توګه ته خپل ماشوم ته ښیی چې واقعاً اجازه لری خپله تېروتنه وکړي.

## ۴ چیرته نور معلومات او مرسته موندلی شې؟

### ته کومه پوښتنه یا شک لرې؟ یا ستا ماشوم د ژبې ستونزه لری؟

د دې په اړه د ښوونکی سره خبرې وکړه. ښوونځی به نور هم مرسته درسره وکړی.

### ته غواړې خپله نیدرلندي زده کړې؟

امل سره اړیکې ونیسه. یو کارکوونکی به په لیوالتیا درسره مرسته وکړي.

۰۹۲۶۵۷۸۴۰

info@amal.gent

www.amal.gent

### د خپل ماشوم د روزنې په اړه پوښتنې لرئ؟

د ودې ټیم مرسته درسره کوی. تاسو کولی شئ د ودې ټیم دفتر په خپل سیمه یا د ښاروالۍ کې پیدا کړئ.

۰۹۳۲۳۵۹۹۹

www.stad.gent/groeiteam

**وومۍ چې کاسیا او عماد له خپلو لوبو، حوا او ایمیلیا سره ښنګه په څو ژبو خبرې کوی.**
**QR کوډ سکین کړئ او د Kind & Gezin فلم وګورئ**

Onderwijs centrum.gent

Vertaling Nederlands-Pasjtoe.
Dit is de vertaling Pasjtoe van “Opvoeden in verschillende talen? Goed idee!” en bevat identiek dezelfde informatie als de Nederlandse tekst. Deze vertaling mag enkel verspreid worden met de originele brontekst “Opvoeden in verschillende talen? Goed idee!”.